
# د تصویرد غوره کولو لارې

د تصویر په غوره کولو سره باید چاته سپکاوی ونه شي او د چا سوداګری ته هم د اعلان زمینه برابره نه شي. د تصویرونو په کارولو کې ریښتینولي اوصداقت باید له پامه ونه غورځي. تر تصویر لاندې د هغه تشریح باید تل در په یاد وي.



کله چې د بي بي سي د خبري وېبپاڼې لپاره کوم تصویر غوره کوئ، ښه داده چې له ځانه وپوښتئ چې "دا تصویر به څنګه کاروم؟". قرینه (چاپېریال) یې څه دی؟

آیا تصویر د خبر لپاره دی که د فیچر لپاره؟ موضوع څومره مهمه ده؟

آیا موضوع غیر جدي ده؟ ښایي د تصویر د غوره کولو معیارونه یو څه نرم کړئ.

تصویر چېرته راځي؟ پر لومړي مخ به وي او که د متن په منځ کې؟ هر یو یې د تصویر د غوره کولو خپلې لارې لري.

د ساري په توگه د لومړی مخ  ډېر توږل وغواړي. اړتیا ده چې د پیکسل هره بڼه په ښه توگه وکارېږي. تصویر مو باید داسې غوره شوی وي چې له متن نه سر راوباسي او د لوستونکي پام ځانته ور واړوي چې په نتیجه کې یې هغه دې ته رامات شي چې پر مطلب مو کلیک وکړي او ویې لولي.

که تصویر د متن لپاره وي، نو بیا په کار ده چې په مطلب کې راغلي معلومات انځور کړي. هڅه وکړئ چې تصویر مو له موضوع سره نښتی وي او څکه مطلب هم ورسره لږ څه پر مخ وځکوي.

له دې پرته، ښایي د تصویرونو په گالرۍ (البوم) کې یې وکاروئ چې هلته به یې اندازه هم خورا لویه او  هم پراخه وي او د څو تصویرونو د لړۍ یوه برخه به ترې جوړېږي. نو څکه ځانته روښانه کړئ چې تصویر مو له متن سره سمون لري.

که دا نننۍ پاڼه راواړوئ نو ددې کار څو ښې بېلگې په کې موندلی شو. که د نننۍ پاڼې درې پاسني مطلبونه په پام کې ونیسو، نو وبه گورئ چې بېلابېل تصویرونه ورته غوره شوي دي.

د سر سر مطلب، ساده او ناپیچلی دی چې اوباما ته همدا اوس د نوبل د جایزې پر ورکولو راڅرخي. دا له آرشیف نه اخیستل شوی تصویر دی. د پېښې په ځای کې خنثې حالت ښیي او د متن له روحیې سره سمون لري.

دویم تصویر په پاکستان کې د یوې بمي چاودنې صحنه ښیي. ددې انځورول یو څه گران دي. په کار ده چې ذوق او صداقت له پامه و نه غورځي، خو دا هم ضرور ده هغه څه وښودل شي چې له موضوع سره تړاو لري،.

د درېیمې موضوع انځورول لږ څه آسان دي. دا د برتانیا د ملکې په اړه ده، نو کولی شئ چې د هغې یو ښایسته پورتریت له آرشیف نه غوره کړئ، ښه یې سره وتوږئ او ټول پېکسلونه په کې وکاروئ.

**حالت**

د تصویر د چاپېریال (قرینې) تر څنگ د حالت په اړه هم فکر کوئ.

دا موضوع په تېره بیا هغه مهال چې له آرشیفه د چا تصویر د یو مطلب د مصور کولو لپاره کاروئ، اهمیت مومي.آیا موضوع جدي ده، که هسې غیر جدي یو بیان دی؟ هڅه موباید دا وي چې تصویر دغه حالت راغبرگ کړي.

نشوای کېدی چې په یوه جدي موضوع کې داسې یو تصویر چې څوک د ټوکو او مسخرو په حال کې ښیي، ور واچوئ او یا یې سرچپه. دا خورا مهمه خبره ده. که داسې شول نو بې خونده برېښي او ښایي بیخي ناسم یو تصور جوړ کړي.

نو راځئ په خپله وېبپاڼه کې ځیني تصویرونه له پامه تېر کړو

راځئ د ایټالیا پخواني صدراعظم بېرلوسکوني ته وګورو: ده ته د محکمې پرېکړه اورول شوې چې یعنې نور له عدلي تعقیبه خوندي نه دی.

هغه په دې موضوع کې نه اپلېدونکی دی او غاړه نه ږدي، نو تصویر هم دا سې ورته په کار دی چې همدا حالت انځور کړي او د هغه د حالت جدي والی هم په کې راشي، خو ورسره ورسره زما په فکر د هغه خپله معموله "خودي" هم په کې راغبرګه شي.

خو د معرفي کولو پر وخت یې داسې غیر جدي تصویرونه هم غوره کولی شئ چې د هغه شخصیت ښیي او هغسې یې انځوروي چې خلکو ته برېښي.

**سرچینې**

موږ خپل تصویرونه له څو جلا جلا سرچینو اخلو او تر ټولو مهمه خبره داده چې د تصویر پر رښتینولۍ پوره ډاډه اوسئ. ځکه چې کله یې خپروئ نو پوهېږئ به چې سم دی. داسې تصویر نشئ خپرولی چې د رښتینولۍ د معلومولو مساله یې راپورته شي او یا یې کوم څوک وننګوي.

موږ ته ځینې تصویرونه خپل همکاران چمتو کوي. نور زیاتره یې، د بېلابېلو تصویر چمتو کوونکو موسسو له خوا چې ګډون په کې شوی، چمتو کېږي، لکه: اسوشیټېډ پرېس او پرېس اسوسیشن. له دوی سره زموږ راکړه ورکړه شته او د سر چینو په توګه باور پرې کوو.

نور یې راته هغه آزاد خبریالان چمتو کوي چې د وختونو په اوږدو کې یې مومو، اړیکې ورسره ټینګوو او پر کار یې ځان خبروو. موږ ته دا هم جوته شوې وي چې ترسره کړی کار یې رښتونی او سم دی.

ځینې نور بیا د ټولنې د عادي غړو له خوا را استول کېږي او دا هغه بله برخه ده چې لږ څه ډېرې همکارۍ ته په کې اړتیا ده. دا کار هغه چاته د بیا مراجعې له لارې کېږي چې عکس یې در استولی او د یو لړ پوښتنو د کولو له لارې ځان پر دې ډاډه کوئ چې په وینا کې یې درغلي نشته او تصویر د دوی خپل دی او له هېڅ بل ځای نه یې نه دی غلا کړی.

ځینې نور خلک بیا خپله آجنډا لري چې غواړي وچلېږي نو ځکه دلته هم احتیاط په کار دی چې هغه څه در باندې تکرار نکړي چې د دوی زړه یې غواړي. نورې سرچینې هم وګورئ. ویې پلټئ. شاوخوا ته مو نظر واچوئ، او ځان ډاډه کړئ چې در استول شوی تصویر رښتیا هم د هماغه ځای برېښي چې تاسې ته ویل شوي دي.

که یو څوک، د ساري په توګه د یوې مهمې پېښې په منځ کې وي، عملا" ورته آیا امکان شته چې په خپل لاس دا دومره تصویرونه واخلي؟ داسې خو به نه وي چې هغوی له څو ځایونو نه غلا کړي وي او موږ ته یې را استولي وي؟

خبره تل دا نده چې ګڼي يو څوک هرومرو زموږ په تېر ايستنې پسې دی. کله کله هغوی يوازې داسې انګېرې چې که دغه تصويرونه موږ ته راولېږي او موږ يې وګورو نو خوښ به شو. خو تاسې ته په کار ده چې خورا ډېر ډېر احتياط وکړئ.

ځيني نورې سرچينې هغه مواد دي چې نور يې ويشي، لکه د شرکتونو په خبر پاڼو کې راغلي تصويرونه. ددې ډلې ځيني تصويرونه هغه خبري آژانسونه هم راخلي چې مخکې ورته ګوته ونيول شوه: اسوشيتيد پرېس، پرېس اسوسيشن او نور. خو دلته هم ځير اوسئ چې تصوير په سمه قرينه کې راشي او داسې نه وي چې د بل چا سوداګريز محصول ستاسې له لارې تبليغ شي.

**د کاپي کولو حق (کاپي رايټ)**

د عکسونو د کارولو په برخه کې د کاپي کولو حق (کاپي رايټ) يوه مهمه موضوع ده او بايد دا راته پوره سپينه وي چې کوم عکس چې خپروو، حق يې لرو.

هغه عکسونه چې له خبري آژانسونو څخه، لکه اسوشيتيد پرېس يا پرېس اسوسيشن تر لاسه کېږي، باک نه لري ځکه چې ګډون مو په کې کړی او تړون ورسره لرو.

آزاد خبرياالان: له دوی سره بايد رېښتوني اوسو او ورته ووايو چې عکس يې څه ډول کارول کېږي او څومره به پر وېبپاڼې پاتې وي. زموږ مطالب پر وېبپاڼه تلپاتې وي نو ځکه هغوی ته بايد دا خبره روښانه شي او موږ هم ډاډه اوسو چې له هغوی سره په تړون کې د عکسونو د دا ډول کارېدنې موضوع ياده شوې ده. ښايي دغه تصويرونه پر تلوېزيون هم راښکاره شي، ښايي داسې يوه تړون ته اړتيا ولرو چې په ټولو رسنيو کې د کارېدنې موضوع را نغاړي.

د ټولنې عادي غړو ته هم چې کله تصويرونه را استوي ويل کېږي چې کوم حقونه يې په موږ پورې اړه لري چې ورسره پر خپله وېبپاڼه د هغو د خپرولو جوګه شو. د کاپي حق (کاپي رايټ) لا هم د هغوی دی، خو موږ يې پر بي بي سي د خپرولو حق تر لاسه کوو.

نورې سرچينې: کله کله ځيني عکسونه په خپلو طبيعي سرچينو، لکه خبري آژانسو يا نورو کې نشو موندلای نو ځکه بايد ورپسې بل ځای پلټنه پيل کړو. ښايي شخصي کليکسيونونه وګورو يا په ځانګړو افرادو پسې ولاړ شو او بيا هر تصوير وښيو چې له کومه مو تر لاسه کړی دی.

دلته هم په کار ده چې له ځان سره مو پخه کړې وي چې څه غواړو او څنګه به يې کاروو. آيا هغوی چې عکس راکوي غواړي چې يادونه او مننه يې وشي؟ عکس به يې د څومره مودې لپاره پر پاڼه پاتې وي؟ او څومره پيسې غواړي.

**نشراتي (ايډيټوريال) قواعد**

بي بي سي د تصويرونو د کاروني او يا نه کاروني په برخه کې خورا سخت نشراتي (ايډيټوريال) قواعد لري. دا موضوع په تېره بيا د وېبپاڼې په برخه کې خورا مهمه ده ، په دې چې هرڅوک يې، د هر عمر کس يې د ورځې په هره شېبه کې کتلی شي.

د سرپاڼې د پرانستني پر مهال، سړی تل نه پوهېږي چې څه به ګوري. ښايي د سر موضوع يې له خوشحالي سره ملګرې او غير جدي وي، يا په کې بيخي جدي مساله راغلې وي. نو ځکه په هغه څه کې چې ښاياست يې، ډېر محتاط اوسئ.

کله چې پر موضوع ښه ورسېدئ، بيا مو نو کار دا دی چې خبر نورو ته بيان کړئ. زموږ وېبپاڼه خبري ده نو ځکه بايد د هغه څه چې پېښېږي، ځيني خواوې او د پېښې ځيني واقعيتونه وښيو. خو بايد چې خورا ډېر احتياط وکړو. که شک در سره وي، نو د نشراتي تګلارې ادارې (Editorial Policy Unit) شته چې مرسته وکړي.

**راځئ دلته يوه بېلګه سره وګورو**

دا هغه بمي چاودنه ده چې کابل کې وشوه. دلته هم، دا د تصويرونو يوه ټولګه ده، شپږ – اووه تصويرونه چې پېښه، بې له دې چې بيخي يې زړه بوږنوونکي کړي، ښيي. سړی غواړي چې د پېښې ځای او هغه څه چې هلته روان دي وګوري.

دلته وينئ چې خلک د هر هغه چا د ژغورني هڅه کوي، چې ښايي لا هم د خاورو او لوټو په منځ کې ژوندی پاتې وي، يا هسې په عمومي ډول غواړي پوه شي چې څه روان دي. له لېرې اخيستل شوی عکس (وايډ شاټ) چاودنه په هماغه شېبه کې چې کېږي، ښيي.

دا هم يو څوک دی چې په کوم ورک خپلوان پسې ګرځي. ښکاره ده چې خورا غمجن برېښي.

دا بل هم د يوه مړي د لېږدولو حالت ښيي. تاسي دلته د دې چاودنې عواقب او زيانونه ښاياست او دا چې څومره کسانو په کې ژوند بايللی دی. خو دا هسې تش يو څه نه دي. وروسته پسې له لېرې اخيستل شوی تصوير (وايډر شاټ) راځي چې شاوخوا سيمه او هغه څه ښيي چې همدغه شېبه روان دي.

خو دلته د دخالت موضوع هم راځي. دا هومره چې برېښي ساده موضوع نده، خو د بي بي سي نشراتي تګلاره (ايډيټوريال پاليسي) درسره دلته هم مرسته کولی شي.

د دې ډول يوه وروستۍ بېلګه د هغه امريکايي سمندري پوځي تصوير دی چې په افغانستان کې ټپي شوی و او وروسته له خپلو ټپونو مړ شو. خپلوانو يې خپله کړې موافقه بېرته واخيسته او د دې مانا دا شوه چې دلته په بي بي سي کې موږ نشوای کولی چې دغه تصوير خپور کړو.

په امريکا کې ځينو وېبپاڼو هغه خپور کړ، ځکه داسي يې بلله چې د دغې جګړې د بوږنوونکې څېرې ښودل ډېر مهم دي. په دې تصوير کې صحنه دومره په جزيياتو هم نه وه ښودل شوې، خو د عسکر په مړينې سره په عکس کې راغلی نکل له ژورو احساساتو سره ملګری شو.

یوه بله برخه چې پام پرې باید وساتئ او ورته ځیر اوسئ، کوچنیان دي. په برتانیه کې چې د هر کوچني عکس خپروئ، نو د مور یا پلار او یا د هغه د حقوقي سرپرست اجازه حتمي ده.

**سپکاوی**

کله چې خبره د عکسونو شي، نو خورا ډېر حقوقي اړخونه مخې ته راځي چې پام غواړي. یو مهم یې سپکاوی دی. یو سړی د عکس په خپرولو هماغومره سپکېدلی شي چې په متن کېږي.

دا ټکی په تېره بیا هغه مهال ارزښت مومي چې خبره د (تجارتي) شرکتونو پر سر وي او تاسې د جلا جلا شرکتونو او له دغو شرکتونو سره د تړلو جلا جلا خلکو په اړه غږېږئ. باید ډاډه اوسئ چې عکسونه بیخي سم دي او هغه څه په سمه توگه ښیي چې دوی یې سرته رسوي.

خو که چېرې مو سروکار، د ساري په توگه، له کومې جنایي موضوع سره وي، نو ځان پوره ډاډه کړئ چې په عکس کې یوازې هماغه شرکت راشي چې په دغه قضیه کې ښکېل دی او نه کوم بل څوک. که دا شونې نه وه، نو کولی شئ یو ډېر عام عکس وکاروئ، چې د پېژندنې وړ بل څوک په کې نه وي راغلی.

**رېښتینولی (صداقت)**

البته چې د تصویرونو په کارونه کې رېښتیا او صداقت خورا ډېر اهمیت لري. یوازې د عکس په ساده توږلو سره کېدای شي د هغه بشپړه مانا او ورسره د تړلي خبر ټوله محتوا واوړي.

د ساري په توگه د دې هلک دا عکس په پام کې ونیسئ چې د سوماترا زلزلې ځپلی و. هغه داسې برېښي لکه پر ډاگ چې پاتې وي. ښایي مور او پلار یې له لاسه ورکړي وي. ښایي د خپلوانو یا نورو لټون کوي.

خو که د عکس بشپړ چوکاټ (فریم) وگورئ، نو اصلا" په کې داسې څه نه برېښي. بشپړ تصویر هغه د سره صلیب په سیمه کې ښیي. د سره صلیب کومه کارکوونکې لگیا ده مرسته ورسره کوي او په حقیقت کې یې مور ورسره ملگرې ده چې دلته د عکس پر کینه خوا برېښي. د عکس په لومړنی توږل شوې بڼه کې دغه شیان نه برېښي چې د حقیقت یوه اوښتې بڼه ده.

**سمول**

په عکس کې یوازې یو څه ساده تخنیکي بدلونونه راوستلی شو چې پر وېښيانه ښه وبرېښي. ځینې عکسونه تر نورو ډېر کار غواړي. د ساري په توگه له ویډیویي فلم نه اخیستل شوی عکس ددې لپاره چې ځلا او د رنگونو انډول یې سم شي، تر هغه تصویر چې خبري آژانس در استولی او یا مو پر خپلې ډېجېټل کمرې اخیستی، ډېر کار غواړي.

که داسې نه وي، نو بیخي لاس مه ور وړئ.

**د عکس پېژندنه (کاپشن)**

تر عکس لاندې تشریح (کاپشن) هم خورا ارزښت لري. تاسي باید په دې قانع شوي یاست چې لیدونکی مو په عکس کې انځور شوی کس یا موضوع پېژندلی شي . خو یوازې د هغه څه بېروحه تکرار به چې پخپله په عکس کې برېښي، بس نه وي. باید ډاډه شئ چې تشریح (کاپشن) د عکس ارزښت زیاتوي او لوستونکی خبر ته ورڅکوي.

# (ښه انځور څنګه واخلو؟ (لومړی برخه

1 Comment پښتو ژباړه ,ساینس او تکنالوژي :برخه January 19, 2015 د خپرېدو نېټه حبیب وقار لیکوال

(Camera) د فلم اخیستلو کمره -

ژباړه: حبیب وقار –

.د فلم اخیستلو کامره څه شی ده؟ د کامرې اصلي برخې او د کامرې د کارولو ډول –

کامره په فلم کې د پرلپسې او تړلو انځورونو د ثبتولو یوه څانګه ده. په خلاصه توګه ویلای شو، هغه څه چې د فلم اخیستلو په وخت کې رامنځ ته کېږي دا دي چې:

کامره په صحنه کې د فلم اخیستلو په وخت کې، په یوې ټاکلې چټکتیا سره له ټاکلې صحنې څخه د بېلګې په توګه (په ثانیه کې ۲۴ قابه) په پرلپسې توګه فلم اخلي. دا انځورونه د فلم په مخ د قاب په ډول په قاب کې ثبت کېږي. وروسته دا فلم د ننداري په دستګاه کې ږدي، په همغه چټکوالي سره چې فلم اخیستل شوی، هغه ننداري ته وړاندې کوي، د انسان د سترګو د پرلپسې لیدلو د ځانګړني له مخې، یو پر بل پسې حرکت رامنځ ته کوي.

نن ورځ په بېلو اندازو کې د بېلو وړتیاوو لرونکې کامرې تولیدېږي چې په بېلو طریقو سره په بېلو ځایونو کې د فلم اخیستو لپاره کارول کېږي. موږ به ډیجیټل کامره و ارزوو.

:د ډیجیټل کامرې بېل ډولونه

، سخت ډیسک او آن Mini DV ،Digital8 ، MicroMV ،DVD د ډیجیټل کامرې ارزښت لرونکې ډولونه عبارت دي له چې هغوی ته به هم په لنډه توګه اشاره وکړو HD- DVD.

Mini DV

د فلم اخیستو ډېره دودیزه کامره ډیجیټل ده، د کاسټ فیټو په ډول فیتې لری چې وخت یې هم په بېلابېله توګه له نیم ساعت څخه تر ۲ ساعتونو پورې دی. د کامرې دا ډول د فلم اخیستو ټول ډیجیټل امکانات لکه ښه تصویر همدارنګه د کاروونکو په

ستوډيو ښه غږ په آسانی سره ورکوي. ځيني له دې فيتو څخه يوه وړه برخه لري چي نېټه، ساعت او نور PCM واک کي د اطلاعات پکي ثبت دي.

Digital8

څخه لږ لويي او ارزانه دي mini DV فيتو يا ۸ کيلومتره واټن څخه د فلم اخيستو وړتيا لري. له Hi8کامرې د Digital8سوني.

د دې کامرې په کارولو سره به وکولای شئ د پخواني انالوګ ۸ ملي متري فيتې هم خپرې کړئ او هغه په ډيجيټل هم بدلوی شئ کامرې د ماشين چټک ګرځېدو ته په پام سره، د يو ساعته فيتې په مخ Digital8 چي البته دا د خصوصي موډلونو ځانګړتيا ده. د د انځورونو د واړه کولو له سټنډرد نه ګټه اخلي DV د Digital8 او Mini DV .به يوازې نيم ساعت فلم ثبت شي.